# دښمنه !

که وخت راغی ستا ترکوردرځم دښمنه
یوه ورځ خو به ضروردرځم دښمنه

ترقیا مته به بیکس او بیوس نه یم
په پوښتنه د خپل پور درځم دښمنه

ښه مې پیژنې چې زه هغه پښتون یم
چې په پښو به ترلاهوردرځم دښمنه

که مې دواړه پښې لاسونه رانه پرې کړې
په سینه به ستا په لوردرځم دښمنه

**دا زما د قيام وخت دی ځان خبرکړه**

**درروان يمه په شوردرځم دښمنه**

**الحاج الهام الدين قيام**

23/08/2015